PS



# «ما په اروپایی اتحادیې کې د پناه غوښتنه کړې – کوم هیواد به زما غوښتنه وڅېړي؟»

## الف

د اروپايي ټولنې (EU) د 2013/604 مقررې د 4 مادې په اساس،
هغو خلکو ته چې د نړیوال پناهندګۍ غوښتونکي دي، د ډوبلین
مقررې په اړه معلومات

تاسو د دې لپاره له مونږ څخه د حمایت غوښتنه کړې ده چې فکر کوئ د ظلم، جګړې یا نورو جدي خطراتو له امله د خپل هیواد پریښودو ته اړ شوي یاست. قانون دې وضعیت ته ‹د نړیوال حمایت غوښتنه/ درخواست› او تاسو ته ‹درخواست کونکی› وایي. هغه خلک چې د حمایت غوښتنه کوي د ‹پناه غوښتونکی› په نوم یادیږي.

دا چې دلته مو د پناه غوښتنه کړې ده، دا ضمانت نه درکوي چې ستاسو درخواست به همدلته معاینه کړای شي. هغه هیواد چې ستاسو د درخواست معاینه په غاړه اخلي د ‹ډوبلین› د مقرراتو تر نوم لاندې د اروپايي اتحادیې د قوانینو په اساس معلومیږي. د دې قانون په اساس یوازې یو هیواد ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت لري.


دا قانون په داسې یوه جغرافیوي سیمه کې پلي کیږي چې32 هیوادونه یې تر سیورې لاندې راځي. په دې رساله کې دغه32 هیوادونه د ‹ډوبلین هیوادونو› په نوم یاد شوي دي.

که چیرته د دې رسالې په کومه برخه نه پوهیدئ نو مهرباني وکړئ زمونږ د چارواکو څخه پوښتنه وکړئ.

مخکې له دې چې ستاسو د پناه غوښتنې په اړه کار پیل کړو، مونږ باید پوه شو چې آیا مونږ ستاسو د درخواست د معاینه کولو مسولیت لرو که کوم بل هیواد یې لري- مونږ دغه اقدام ته ‹د ډوبلین کړنلاره› وایو. د ډوبلین کړنلاره ستاسو د پناه غوښتنې دلیل په نظر کې نه نیسي. دا یوازې په دې اړه تصمیم نیسي چې کوم هیواد باید ستاسو د درخواست د معاینه کولو مسولیت په غاړه واخلي.

**دا رساله یوازې د معلوماتو په موخه جوړه شوې ده. دا هڅه کوي هغو کسانو ته چې د نړیوال حمایت غوښتنه کوي، د ډبلین د کړنلارې په اساس اړوند معلومات وړاندې کړي. دا په خپله هیڅ ډول حقوق یا قانوني مسولیت نه لري. د ډبلین په کړنلاره کې د دولتونو او افرادو حقونه او مسولیتونه هغه څه دي چې د اروپايي اتحادیې په ۲۰۱۳/۶۰۴ مقرره کې راغلي دي**

**© د اروپا اتحادیه 4102**
**بیاتولید یې مجوز دی. د هرډول کارووني یا انفرادي عکس (کاپي) تولید لپاره اجازه باید د کاپي حق لرونکو لخوا په مستقیم لیکلې بڼه واخیستل شي.**




د ډبلين په هيوادونو کې د اروپايي اتحاديې 28 هيوادونه (اسـتريا(AT)، ايټاليا(IT)، انګلسـتان(UK)، اسـتونيا(EE)، آيرليند(IE)، بلجيم(BE)، بلغاريا(BG)، پوليند(PL)، پرتګال(PT)، جرمني(DE)، چک جمهوريت(CZ)، دنمارک(DK)، رومانيا(RO)، سـلواکيا(SK)، سـلوانيا(SI)، سـويډن(SE)، فينليند(FI)، فرانسـه(FR)، قبرس(CY)، کرواسـيا(HR)، لوکزامبورګ(LX)، لتويا(LV)، ليتوانيا(LT)، مالتا(MT)، نيدرلندز(NL)، هسـپانيا(ES)، هنګري(HU)، يونان(EL))، او د ډبلين مقرراتو 4 "اتحادي هيوادونه" شـامل دي (ايسـلند(IS)، سـويټيزرلنډ(CH)، ليختن اشـتاين(LI) او ناروې(NO) ).

- **په څومره موده کې به معلومه شي چې کوم هیواد زما د درخواست د معاینه کولو مسولیت په غاړه لري؟**

- **زما د درخواست معاینه به څومره وخت ونیسي؟**

که چیرته زموږ چارواکي تصمیم ونیسي چې موږ ستاسو د پناه غوښتنې درخواست د معاینه کولو مسولیت په غاړه لرو، نو تاسو به همدلته پاتې کیږئ او درخواست به مو هم دلته معاینه کیږي. له دې نه وروسته سمدستي د درخواست د معاینې بهیر پیلیږي.

که چیرته کوم بل هیواد ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت ولري، نو موږ هڅه کوو چې ژر تر ژره مو هغې هیواد ته واستوو تر څو د درخواست معاینه مو هلته ترسره شي. د ډوبلین کړنلاره **په عادي حالاتو کې تر څو چې هغې هیواد ته استول کیږئ، تر11 میاشتې پورې وخت نیسي**. د پناه غوښتنې درخواست مو بیا هلته معاینه کیږي. دغه زماني چوکاټ په هغه صورت کې چې تاسو ځان د چارواکو څخه پټ کړئ، بندي یا توقیف شئ، یا هم د پریکړې د بدلولو غوښتنه وکړئ، ممکن مختلف وي. که چیرته له داسې حالاتو سره مخ شوئ، نو د اړوند زماني چوکاټ په اړه تاسو ته ځانګړي معلومات درکول کیږي. د توقیف په صورت کې تاسو ته د توقیف دلایل او د وضعیت څخه د وتلو قانوني لارې چارې تشریح کیږي.




©European Union

## • هغه هیواد چې زما د درخواست د معاینې مسولیت لري، څنګه ټاکل کیږي؟



©iStockphoto / Joe Gough

په قانون کې مختلف دلایل راغلي چې ولې باید یو هیواد ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت په غاړه ولري. دا دلایل د خپل اهمیت له نظره په قانون کې ترتیب شوي دي. لومړی دلیل دا دی چې آیا ستاسو د کورنۍ کوم غړی د ډوبلین په کوم هیواد کې میشت دی؛

آیا فعلاً یا په تیر وخت کې مو کله د ډوبلین کوم هیواد ویزه یا د استوګنې جواز درلود؛ آیا په قانوني یا غیر قانوني بڼه مو د ډوبلین کوم هیواد ته، یا د کوم هیواد له لارې سفر کړې دی.

که چیرته د کورنۍ کوم غړی مو د ډوبلین په کوم بل هیواد کې میشت وي نو ژر تر ژره یې مونږ ته وواياست، ځکه چې ډیر اهمیت لري. که چیرته ستاسو خاوند، میرمن، یا کوم ماشوم د ډوبلین په کوم بل هیواد کې میشت وي او پناه ورکړ شوې وي، نو همدغه هیواد ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت هم په غاړه لري.

مونږ په همدغه هیواد کې ستاسو د درخواست معاینه پیل کوو، آن که چیرته د ډوبلین مقرراتو د معیارونو په اساس داسې معاینه زمونږ مسولیت هم نه وي. داسې یو هیواد ته مو نه لیږو چې ستاسو بشري حقونه پکې خوندي نه وي.

## که چیرته یو بل هیواد ته له تګ سره موافقه و نه لرم نو څه پیښیږي؟

تاسو کولی شی چې د ډوبلین یو بل هیواد ته له تګ سره مخالفت وکړئ او د محکمې په وړاندې له خپل نظر څخه دفاع وکړئ. همدارنګه کولی شی تر هغه پورې چې ستاسو د استیناف یا بیاکتنې په اړه تصمیم نیول کیږي، په همدې هیواد کې د پاتې کیدو غوښتنه وکړی.

که چیرته د پناه غوښتنې لپاره خپل درخواست پریږدی او د ډوبلین هیوادونو یو بل ملک ته ولاړ شی، نو بیرته لمړني هیواد یا هم اړوند هیواد ته استول کیږې.

بناء مهمه ده چې د پناه غوښتنې لپاره د درخواست ورکولو څخه وروسته انتظار وکړی تر څو تصمیم ونیول شي چې 1) کوم هیواد ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت په غاړه لري او/یا 2) په همدې هیواد کې ستاسو درخواست تر معاینې لاندې ونیول شي.

لطفاً دا موضوع په نظر کې ونیسئ چې که چیرته مونږ شکمن شو چې تاسو د دې لپاره چې بل هیواد ته مو ونه لیږو، د تیښتې یا د ځان پټولو هڅه کوئ، نو په توقیف ځای (یو بند مرکز) کې مو ساتو. په داسې حالاتو کې تاسو د قانوني استازی ټاکلو حق لرئ، او د نورو حقونو په اړه مو هم معلومات درکول کیږي، لکه د توقیف په اړه د استیناف غوښتنه کول.


©iStockphoto / janp013

## ولې زما د ګوتې نښه اخیستل کیږي؟

که چیرته د پناه غوښتنې په وخت کې ستاسو عمر14 کاله یا زیات وي نو د ګوتې نښه مو اخیستل کیږي او د ‹یوروډاک› په نوم د ګوتې د نښو ډیټابیس ته استول کیږي. **تاسو باید هرومرو له دې کړنلارې سره مرسته وکړئ- ځکه چې د قانون له مخې باید د خپلو ګوتو نښې اړوندو مسولینو ته وسپارئ.**

که چیرته ستاسو د ګوتې نښه ښه کیفیت و نلري، یا د دې لپاره چې د ګوتې نښه مو سم رانشي خپله ګوته خرابه کړی، نو په راتلونکي کې بیا ستاسو د ګوتې نښه اخیستل کیږي.

د ګوتې نښه مو بیا د یوروډاک لخوا کتل کیږي چې دا معلوم کړي آیا مخکې مو په کوم بل هیواد کې د پناه اخیستلو غوښتنه کړې ده او آیا په کومه پوله کې وراندې له دې نه ستاسو د ګوتې نښه اخستل شوې ده که نه. د دې په مرسته معلومیږي چې د ډوبلین کوم هیواد ستاسو د درخواست د معاینه کولو مسولیت لري.

همدارنګه ستاسو د ګوتې نښه د ویزا په معلوماتي سیستم (VIS) کې هم کتل کیږي، تر څو معلومه شي چې د شینګین سیمې د

هیوادونو ویزه مو اخیستې ده که نه. که چیرته د کوم ډوبلین بل هیواد ویزه مو مخکې یا همدا اوس اخیستې وي نو د نړیوالې پناه غوښتنې درخواست مو هم هغې هیواد ته راجع کیږي.

د پناه غوښتنې سره سم ستاسو د ګوتې نښه اخیستل کیږي او په یوروډاک کې د 10 کلونو لپاره ساتل کیږي چې د دې مودې څخه وروسته پخپله په اتوماتي ډول پاکیږي. که چیرته تاسو د پناه غوښتې لپاره په درخواست کولو کې بریالي شئ نو ستاسو د ګوتې نښه په یوروډاک کې تر هغې ساتل کیږي چې پخپله پاکه شي. او که چیرته د ډوبلین په کوم هیواد کې تابعیت درکړ شو، د یوروډاک څخه مو د ګوتې نښه لرې کیږي. په یوروډاک کې یوازې ستاسو د ګوتې نښه او جنسیت ساتل کیږي- نوم، عکس، د زیږیدنې نیټه مو بیا په ملي ډیټابیس کې ساتل کیږي او یوروډاک ته نه استول کیږي.

تاسو کولی شئ په راتلونکي کې هر وخت په یوروډاک کې د خپل ځان په اړه د ثبت شوي معلوماتو په هکله پوښتنه وکړئ. که چیرته فکر کوئ چې نوموړي معلومات دقیقه ندي یا هم اصلاح ته اړتیا لري، نو کولی شی د لرې کولو یا هم د تصحیح غوښتنه وکړئ. **هغه چارواکي کوم چې په دې هیواد کې ستاسو د ډیټا د معامله کولو (یا کنترولولو) مسول وي، او هغه اړوند چارواکي کوم چې د ډیټا ساتنې د خارنې مسول دي، د هغوی په اړه معلومات په 11مخ کې موندل کیږي.**

یوروډاک د eu-LISA په نوم د اروپایي ټولنې د یوې ادارې لخوا پر مخ وړل کیږي. ستاسو معلومات یوازې په هغه مواردو کې کارول کیږي چې د قانون لخوا اجازه ورکړ شوی وي. یوازې د یوروډاک مرکزي سیسټم ستاسو معلومات ترلاسه کولی شي. که چیرته په راتلونکی کې د ډوبلین په یو بل هیواد کې د پناه غوښتنه وکړی نو ستاسو د ګوتې نښه د تصدیق لپاره لیږل کیږي. په یوروډاک کې ثبت شوي معلومات د ډوبلین د سیمې څخه پرته د هیڅ هیواد یا موسسې سره نه شریکیږي.

د 2015 کال د جولای تر20 پورې ځینې ادارې لکه پولیس او د اروپایي ټولنې د پولیس دفتر (یوروپول) کولی شي د جدي او خطرناکه جرمونو او ترهګریو پیښو د موندلو، او مخنیوی کولو لپاره د یوروډاک له ډیټابیس څخه استفاده وکړي.

## په هغه موده کې چې زما د پناه غوښتنې د پروسې مسول هیواد په ګوته کیږي، زه له کومو حقونو څخه برخمن یم؟

په هغه صورت کې چې ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې مسولیت دا هیواد په غاړه ولري، همدلته پاتې کیږی، او که کوم بل هیواد مسول وي، نو هغې هیواد ته تر تلو پورې هم کولی شی دلته پاتې شی. که چیرته ستاسو د پناه غوښتنې د دوسیې تعقیب د همدې هیواد په غاړه وي، نو تر هغې پورې چې ستاسو په اړه لومړی تصمیم نیول کیږي، دلته پاتې کیدای شی. په دې موده کې تاسو ته د استوګنې ځای، خواړه، او همدارنګه د طبي او بیړنیو مرستو اهتمامات نیول شوي دي. تاسو ته فرصت درکول کیږي چې پخپله مورنی ژبه، یا هره ژبه چې تاسو پرې خبرې کولی شئ، (یا هم د ضرورت په صورت کې ژباړونکی درته نیول کیږي)، د خپل ځان د اوسنې وضعیت په اړه او هم که چیرته د ډوبلین په کوم هیواد کې ستاسو کوم خپلوان وي، اړوندو چارواکو ته معلومات ورکړئ. که چیرته تصمیم ونیول شي چې بل هیواد ته باید ستون شی، په لیکلې بڼه اطلاع درکول کیږي. همدارنګه تاسو کولی شئ د لازیاتو معلوماتو لپاره زمونږ سره په تماس کې شی او/یا په دې هیواد کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنری (UNHCR) سره په تماس کې شی.




که چیرته مونږ تصمیم ونیسو چې ستاسو درخواست باید په یو بل هیواد کې بررسي شي، نو په دې صورت کې د اړوندې کړنلارې په اړه نور بشپړ معلومات درکوو، او همدارنګه درته روښانه کوو چې دا وضعیت په تاسو او ستاسو په حقونو کومې اغیزې لري .

## د اړیکې ځانګړي تفصیلات:

**د کډوالو چارو اداره**
601 70 Norrköping
۰۷۷۱-۲۳۵ ۲۳۵

دا ستاسې د استوګنې کمون دی چې د سرپرست مسؤلیت پر غاړه لري. د کډوالو چارو اداره کولای شي د اړیکه ټینګولو په برخه کې تاسې سره مرسته وکړي. د کډوالو چارو اداره د حقوقي مشاور (وکیل) په برخه کې هم تاسې سره مرسته کولای شي.
۰۷۷۱-۲۳۵ ۲۳۵

دا ستاسې د کمون د ټولنیزو خدمتونو اداره ده چې د کوچنیانو د خوندیتوب مسؤلیت پر غاړه لري.
د کډوالو چارو اداره کولای شي د اړیکه ټینګولو په برخه کې تاسې سره مرسته وکړي.
۰۷۷۱--۲۳۵ ۲۳۵

**د کډوالو چارو اداره، دبلین څانګه**
Box 507
169 29 Solna
۰۷۷۱--۲۳۵ ۲۳۵

**د کمپوټري چارو د تفتیش اداره**
Box 8114
104 20 Stockholm
۴۶+ (۰)۸ ۶۵۷ ۶۱ ۰۰
datainspektionen@datainspektionen.se
/www.datainspektionen.se

**د کډوالو چارو اداره**
601 70 Norrköping
۰۷۷۱-۲۳۵ ۲۳۵

**د کډوالو چارو اداره، د هویت څانګه**
Box 507
169 29 Solna
۰۷۷۱--۲۳۵ ۲۳۵

**د سره صلیب نړیواله اداره**
که چیرې تاسې انفرادي د مهاجرت چارو، لټون، د کورنیو بیرته یوځای کولو، د سره صلیب اعلامیو، بیرته ستنیدل او یا د قید تصدیق په اړه مشورې ته اړتیا لرئ نو د ۰۰ ۵۰ ۴۱-۰۲۰ په شمیره زنګ ووهئ. د سره صلیب اداره د سه شنبه-چارشنبه-پنجشنبه د ۹:۳۰ نه تر ۱۲ بجو پورې د ټیلیفون وختونه لري. آیا غواړئ چې نور معلومات ترلاسه کړئ چې د سره صلیب اداره کومې مرستې وړاندې کوي نو مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼه
www.redcross.se/detta-gor-vi/stod-till-migranter/
وګورئ.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیسون (UNHCR) د شمالي اروپا لپاره سیمیزه نمایندګي
Ynglingagatan 14
SE-113 47 Stockholm
ټیلیفون: ۰۸-۴۵۷۴۸۸۰ (سه شنبه تر پنجشنبه د ۹:۳۰ – ۱۲ بجو پورې)
برېښنالیک: swest@unhcr.org

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیسون (UNHCR) په سویډن کې د پناه غوښتنې پروسه کې ونډه نه لري او نشي کولای چې منفي پریکړه کې بدلون راولي او یا د هیواد څخه ویستل یا بل هیواد ته سپارل ودروي. د کډوالو عالي کمیسون په انفرادي قضیو کې قانوني مشورې هم نه شي ورکولای. دا چې د کډوالو عالي کمیسون کوم کارونه ترسره کولای شي په هکله یې زمونږ په ویبپاڼه
www.unhcr-northerneurope.org/
resource-centre/for-refugees-
asylum-seekers-faq/

کې "vanliga frågor och svar" (عادي سوالونه او ځوابونه) ولولئ

C-SP-560-41-10-ZB

1787/doi:10.2847
1-134-9243-92-ISBN 978

European Commission

EASO

Publications Office